# د ډرایورۍ لایسنس
# د ټولو لپاره

د 2023 اکتوبر 1

**د معیاري لایسنس یا د پیژند کارت اخیستلو لپاره تاسې اړ یې دوه اساسي اسناد یا یو اساسي سند او یو ثانوي سند وړاندې کړئ.**

**د انګلسي پرته نورو ژبو کې هر سند سره باید ژباړه او د ژباړې تصدیق مل وي.**

## اساسي یا لومړني اسناد

- د کوم یوه هیواد غیر منقضی (وخت لرونکی) نړیوال پاسپورټ (بهرنی یا کورنی).
- د کوم یوه هیواد څخه د زیږون تصدیق پاڼه (بهرنی یا کورنی) پشمول د:
  - د ایالت لخوا صادر شوې د زیږون تصدیق پاڼه
  - د زیږون بهرنی تصدیق پاڼه
  - د بهر زیږون تصدیق پاڼه (FS-545، DS-1350)؛
  - د بهر زیږون اړوند د کونسلر راپور (FS-240).
- په اولادۍ منلو تایید شوې تصدیق پاڼه چې د کوم یوه هیواد لخوا صادر شوې وي (بهرنی یا کورنی) چې د غوښتونکي نوم او د زیږون نیټه پکې لیکل شوې وي.
- د مینیسوټا غیرمنقضی قبیلوي شناخت کارت د امنیت بڼو سره.
- د لاندې اسنادو څخه کوم یو غیرمنقضی سند چې د امریکا متحده ایالاتو د تابعیت او مهاجرت خدمت یا د دې مخکیني ځای ناستو لخوا صادر شوی وي:
  - د تابعیت ورکولو تصدیق (فورمه N-550، N-570، N-578)؛
  - د تابعیت تصدیق (فورمه N-560، N-561، N-645)؛
  - د امریکا متحده ایالاتو د تبعه پیژندنې کارت (فورمه I-179 یا I-197)؛
  - د دایمي اوسیدونکي یا د بهرني اوسیدونکي کارت (فورمه I-551 یا I-151)؛
  - د کار جواز سند (فورمه I-688، I-688A، I-688B، یا I-766)؛
  - د شمالي ماریانا کارت (فورمه I-873)؛
  - امریکایی هندي کارت (فورمه I-872)؛ یا
  - د بیاځل داخلیدو جواز/د مهاجرت سفري سند (I-571).
- د امریکا متحده ایالاتو دفاع وزارت لخوا د برحاله، ریزرف یا تقاعد شوي پرسونل لپاره صادر شوی غیرمنقضی پیژند کارت. پدې نوم هم پیژندل کیږي:
  - د جنیوا کنوانسیون پیژند کارت
  - د عام لاسرسي کارت (DD فورمه 2)
- د بهرني کونسلر پیژند سند.
- د کاناډا د تابعیت تصدیق د غیرمنقضی I-94 فورمې ضمیمې سره (د کاناډا حکومتي اداري لخوا صادر شوي انځور لرونکی ثانوي سند سره باید وړاندې شي).

**که ستاسې اساسي او ثانوي اسنادو کې لیکل شوی نوم ستاسې د اوسني قانوني نوم سره سمون ونلري، نو تاسې باید د خپل قانوني نوم د بدلون (بدلونونو) ثبوت هم وړاندې کړئ.**

- د منلو وړ ثبوت کې تصدیق شوی نکاح خط، د طلاق تصدیق شوی حکم یا د محکمې نور تصدیق شوي امرونه شامل دي.
- ستاسې د نوم بدلون اسناد باید ستاسې د اساسي او ثانوي اسنادو او هغه څه چې باید ستاسې کارت کې ولیکل شي ترمنځ واضح ارتباط وښئ.

drive.mn.gov

# ثانوي اسناد:

- د ټولنیز مصؤنیت اداري لخوا صادر شوي:
  - د ټولنیز مصؤنیت کارت؛
  - د تکمیلي مصؤنیت عاید د ورکړې بیان چې د غوښتنلیک څخه 12 میاشتې ډیره موده مخکې صادر شوی نه وي.
- د امریکا متحده ایالاتو بهرنیو چارو وزارت لخوا صادر شوي:
  - د تبادلې لیدونکي موقف لپاره په شرایطو برابرۍ تصدیق (فورمه DS-2019).
- د امریکا متحده ایالاتو د کورنیو چارو وزارت لخوا صادر شوي:
  - د کار جواز سند (فورمه I-688، I-688A، I-688B، یا I-766)؛
  - د غیرمهاجر زده کونکي موقف لپاره په شرایطو برابرۍ تصدیق (فورمه I-20)؛
  - د ماشومتوب راتګ لپاره ځنډول شوي عمل د تایید خبرتیا (فورمه I-821D)؛
  - د پناه او د ایستل کیدو مخنیوي لپاره غوښتنلیک (فورمه I-589).
- د (بهرني یا کورني) حکومتي اداري لخوا صادر شوي:
  - د ډرایورۍ جواز، د پیژند کارت، یا جواز، د عکس سره، د انقضا څخه یې پنځه کلونه یا کم وخت تیر شوی وي؛
  - تصدیق شوی نکاح خط؛
  - د محکمې تصدیق شوی امر چې نوم او د زیږون نیټه پکې لیکل شوي وي؛
  - د طلاق د حکم یا د واده منحل کیدو تصدیق چې پکې د غوښتونکي نوم یا د نوم بدلون لیکل شوی وي.
- د ښوونځي سوانح:
  - د ټرانسکریپټ کاپي چې د غوښتونکي مکمل قانوني نوم او د زیږون نیټه پکې لیکل شوي وي او د صادروونکي ثانوي یا عالي ښوونځي لخوا تصدیق شوي وي؛
  - د ثانوي ښوونځي اوسنی زده کونکي د پیژند کارت د زده کونکي نوم، عکس یا د زده کونکي بریښنایی عکس او د زده کونکي د زیږون نیټې یا د زده کونکي د پیژند ځانګړي شمیرې سره؛
  - د کوم بهرني هیواد د رسمي عالي لیسې، کالج یا پوهنتون ټرانسکریپټ چې د غوښتونکي د زیږون نیټه او د غوښتونکي د ټرانسکریپټ صادریدو مهال عمر عکس پکې موجود وي؛
  - د کوم بهرني هیواد د عالي لیسې، کالج یا پوهنتون د پیژند کارت د ښوونځي څخه د تصدیق شوي ټرانسکریپټ سره.
- د امریکا متحده ایالاتو د ټرانسپورټیشن وزارت، فدرالي هوای چلند اداري لخوا صادر شوی:
  - د پیلوټۍ اوسنی لایسنس.
- د امریکا دفاع وزارت لخوا صادر شوی:
  - د عام لاسرسي کارت یا د پیژند او امتیاز کارت (فورمه DD-1173)، د برحاله دندي پرسونل پورې تړلي افرادو لپاره؛
  - د خلاصیدو یا ترخیص تصدیق (فورمه DD-214).
- د امریکا متحده ایالاتو د پولیسو ماموریت یا د امریکا متحده ایالاتو د کاونټي د شیرف دفتر لخوا صادر شوي:
  - د تودې وسلې یا د پټې وسلې ګرځولو غیرمنقضی جواز چې د غوښتونکي رنګه عکس وربانديې موجود وي.
- د مینیسوټا د وزګاری بیمې لخوا صادر شوي:
  - د مرستو بیان چې د غوښتنلیک څخه 90 ورځې ډیره موده مخکې صادر شوی نه وي.
- د داخلي عاید خدمت لخوا صادر شوی:
  - د انفرادي مالیه ورکونکي پیژند لمبر لرونکی سند.
- د مینیسوټا د ډرایورۍ او وسایطو خدمتونو لخوا صادر شوی:
  - یو عنواني تصدیق چې د غوښتنلیک څخه 12 میاشتې ډیره موده مخکې صادر شوی نه وي.
- د اصلاح وزارت یا د فدرال محبسونو دفتر لخوا صادر شوی:
  - د پیژند کارت چې د غوښتونکي مکمل نوم، د زیږون نیټه، او عکس وربانديې موجود وي.
- د مینیسوټا د املاکو مالیه سند چې د غوښتونکي اصلي استوګنیزه پته ښئ هم د پوست برخه کې او هم په هغه برخه کې چیرې چې ښئ کوم ملکیت بانديې مالیه پورې کیږي:
  - د جاري یا تیر تقویمي کال لپاره د مینیسوټا د املاکو مالیه بیان؛
  - د جاري کال لپاره د مینیسوټا د املاکو وړاندیز شوې مالیه خبرتیا.
- د غوښتونکي د استوګنې لپاره د ملکیت سند یا عنوان.
- د غوښتونکي د استوګنې لپاره د اجارې اسناد.
- د امریکا متحده ایالاتو یا د کاناډا اوسني حکومت لخوا صادر شوي:
  - د کارمند عکس لرونکی پیژند کارت.
- نظامي اوامر چې لاهم د غوښتنلیک پرمهال پرځای وي.
- د انتخابي خدمت کارت.
- د روغتیا مرستو لپاره یا د مرستې یا ټولنیزو خدمتونو پروګرام لپاره د پیژند معتبر کارت.
- د کاناډا د ټولنیزې بیمې کارت.
- د بهرنی سیمې د فدرال ټاکنو کارت چې د 1991 جنوري په 1 یا لدې وروسته صادر شوی وي، او د غوښتونکي عکس ولري.




DVS Driver & Vehicle Services